**بسم الله الرحمن الرحيم**

**(ژباړه)**

## جنت ته تګ هغه زېری دی، چې نېک عمل ته اړتیا لري

د «صحیح البخاري په شرحه فتح الباري» کې په کم بدلون سره د «فرض الجمعه» په باب کې راغلي، چې ابو هریره رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي:

**«نحن الآخرون السابقون یوم القیامة، بید أنهم أوتوا الکتاب من قبلنا»**

**ژباړه:** *موږ په دنیا کې تر ټولو وروستی امت یو، خو په قیامت کې به تر نورو امتونو وړاندې وو. که څه هم هغوی ته اسماني کتابونه مخکې راغلي دي.*

په مسلمانانو کې د اسلامي افکارو او مفاهمو شتون د دې لامل کېږي، چې په دوی کې هیله، پر ځان باور او سکون ډېر کړي. دغه دین د مسلمانانو په بدن کې ژوند، اراده او معنویت ځای پرځای کوي. ولې به داسې نه وي، ځکه چې باطل هېڅکله او له هېڅ لوري څخه اسلام ته لاره نشي موندلی. اسلام موږ ته زېری راکوي، چې تر نورو امتونو وړاندې به په جنت کې خپل مقام ته ورسېږو؛ که څه هم په دې دنیا کې وروستی امت یو.

هغه ناوړه وضعیت او بدبختۍ چې نن یې په خپل ژوند کې تجربه کوو، موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه حدیث په اړه فکر کولو ته بیایي چې فرمایي: «موږ په دنیا کې تر ټولو وروستی امت یو، خو په قیامت کې به تر نورو امتونو وړاندې وو.»

موږ ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خبرو له الفاظو او معناوو څخه د ژوند لپاره هیلې را ټوکېږي او د ژمنو هغه خوږ او ارام بوی یې حس کوو، چې خپرېږي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د روزنې او لارښوونې تر سیوري لاندې په ژوند کې د قربانۍ روحیه او د الله سبحانه وتعالی د احکامو د پلي کولو انګېزه پیدا کوو؛ هغه احکام چې د خلافت دولت په نسکورېدو سره، چې مسولیت یې د مسلمانانو د چارو سمبالول وو، زموږ له ژوند څخه لرې او ورک شوي دي.

اې مسلمانانو! موږ تاسو د نبوت پر منهج د خلافت دولت د تاسیس لپاره هڅو او فعالیت ته رابولو، ځکه د خلافت دولت تاسیس ستاسو د رب له لوري فرض شوي دي؛ چې په راتګ سره یې ستاسو تللې عزت بیرته راګرځوي، پر خپلو دښمنانو مو غالبوي، خاورې مو ازادوي او هغه روښانه څراغ دی، چې ټولې نړۍ ته خیر او عدالت وړاندې کوي.

اې ربه! موږ ته د نبوت پر منهج راشده خلافت را په برخه کړه، چې په وسیله یې د مسلمانانو ستونزې او کړاوونه حل شي او له هغوی څخه مصیبتونه او بلاوې لرې شي. اې ربه! په خپل کریم نور سره ځمکه روښانه کړه. اللهم آمین آمین!

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**